مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهندوی آصف بهاند

۲۰۲۲/۰۵/۰۱

لنډۍ، د ثبتولو ستونزه

یو سلویودېرشمه برخه

نوې اختریزې لنډۍ

دریمه برخه

د ویر اختر به څه اختر وي
ډک دي له ویر نه زموږ کلي او چمونه

د وږي نس به څه اختر وي
اختر هغه دی چې څو وږي ماړه شینه

پرون د وږو ټولي ویلې
د وږو تږو کره نه شته اخترونه

د اختریزو لنډیو دوې برخې مې تېر کال خپرې کړې وې، سږ مې یې دوې برخې نورې برابرې کړې دي چې د دې اختر په پار یې خپروم:

اختره ته مې په کار نه یې
چې نه مې یار شته نه ډوډۍ نه راحتونه

اختره زموږ خوا ته رانشي
زموږ پکار نه ده خوشحالي او اخترونه

د ویر اختر به څه اختر وي
ډک دي له ویر نه زموږ کلي او چمونه

ناري وهو ناري څوک ناوري
چې سروکار مو دی له ویر او له غمونه

د وږي نس به څه اختر وي
اختر هغه دی چې څو وږي ماړه شینه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د اختر درې ورځې هم لاړې
پــر لار ولاړه، بــې ديــدنـــه پـاتـې شـومـه

ورونو اختر ته خويندې بوتلې
بې ورونو خويندې ديوالۀ ته ناستې دينه

اختر ته اوس نه خوشحالېږم
چې پر وطن باندې حاکم دي ډېر غمونه

پرون د وږو ټولې ويلې
د وږو تږو کره نه شته اخترونه

اختر ته هېڅ نه خوشحالېږم
اختر به څه کړم ټول روان وږي نسونه

اختر که راشي که رانشي
د خلکو تريخ ژوندون کې نه شته بدلونونه

اختر به هلته ښه اختر وي
چې ماشومان کوڅو کې ونکړي سوالونه

اختره اوس بختور نه يې
چې لوی واړه پر لار روان زوړند سرونه

اختره ستا خوشحالي څه کړو
د ډېرې خلکو پر سر بار دلې غمونه

اختره مه راځه دې خوا ته
دلته به سر شي په ژړا او په ويرونه

اختر چې راغی خلک وايي
تر جامو تېر يو راماړه کړئ دا نسونه

اختر راځي بيا راروان دی
لکه د تېر کال به بيا وړي يو پنډ ويرونه

اختره بلې خوا ته لاړ شه
زموږ د کلي خلک ډېر لري غمونه

موږ ته خوښي راکوی نه شي
که په يوه کال کې لس راشي اخترونه

تر اختر تېر يو موږ وهئ مه
زموږ بدن باندې لا شته دي ډېر ټپونه

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ